(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنګ پرغله دئ

که د وړنو ترمیانځ نه وي یکرنګي — زندګي د ښځونه ده زندګي

د ملت ترمیانځ که یو وار نفاق راغی — پر وړ غوړځي هرچوړی او هر بېنګي

دغه حال پر افغانانو نن راغلۍ — د نفاق اساس یې ایښئ فرنګي

د غیرت بګړۍ وغاړې ته لوېد لي — افغانان دي یو د بل سره جنګي

د بڼین ږیره وال د وړوړ په مرګ کړي فخر — غواړم هغه ږیره هاک چي وي سنګي

چي د بل په اشاره خپل وړونه وژني — تر دې نسته بله لویه بې ننګي

نه آرام او نه امید د هوسایې سته — زوړ و ووړ ژوند تېروي په تنګي

چي پر ږړه یې د روپو د حُب تاپې وي — د هغو ظاهري خوی وي پلنګي

په میدان کې چي چرګان سره بېرسي — لمړی ضرب یې وي پر تاج د کلنګي

رښتیا څوک دي پر سورناکله غوږ نیسي

چي وي یوړ ته آواز و نه سورنګي

# ځه ته کرکنډي

شړمښان يوارپسه کړي انډي
څني وڅغلوي هريو خپلي ونډي
انسانان هم څني دي لېوه صفته
څغلوي د وړور د ماله څڼه پلنډي
د حلال مالو يې نه وکړله څکه
دکي خيټي د حراموتنډي تنډي
چي دخولې او دزړه لاره يوه نه وي
منافق دئ په اسلام وهي ملنډي
رقيب لس گرايه بدتر تر شړمښانو
عاشقان يې پسي واخستل سالنډي
ومزله ته رسيده هغوته گران وي
چې په مخ کي وړته پروتي وي کرکنډي
د ريشاء اوږده مزلونه دي په مخ کي
ربه ته کړي اوږدي لارې ده ته لنډي

